
# د افغانانو د موقتي اقامې د بیا اجازې (Re-parole) د تصمیم نیولو لارښود

## د افغانانو د موقتي اقامې د بیا اجازې پروګرام  (re-parole) څه دی او آیا اړتیا شته چې ورته غوښتنلیک وکړم؟

د امریکا د ملی امنیت وزارت (Department of Homeland Security) هغو افغانانو لپاره چې د موقتي اقامې د بیا اجازې پروګرام (re-parole) په شرایطو برابر وی د نوي پروسه اعلان کړی ده چې د دي پروسی په مرسته په شرایطو برابر کسان په قانونی توګه په امریکا کی خپلو اوسیدلو و کارکولو ته ادامه ورکړي. د جون د میاشتی له پیله، هغه افغانان چې د Operation Allies Welcome پروګرام له لاری او د موقتي اقامې د اجازې (Parole) پروسی تر لاندی امریکا ته راغلی وو کولای شي چې خپل اقامه په امریکا کی د دوو نورو کلونو لپاره وغځوي. تاسو کولای شي چې د دوه نورو کلنو لپاره د موقتي اقامې د بیا اجازې (re-parole) او د کار جواز د انترنت و یا هم د پوستی له لاری د عریضی یا غوښتلنیک فورمی په لیږلو سره تمدید کړئ.

د دی پروسی د تکمیل لپاره که انترنتی وی او هم که د پوستې له لاری وي هیڅ کوم فیس نلري. د لاندینی لارښود په مرسته په شرایطو برابر عارضینو ته معلومات ورکوي چې آیا هغوی باید له سره خپل اسناد نوی کړي او که نه.



# تیاری ونیسئ ! چک لست

د موقتي اقامې د بیا اجازې درخواست لپاره د تیاری نیولو غوره ښه لار داده چی خپل ټول د کډوالی اسناد راغوند او تنظیم کړئ. لاندی یو ګرندی د اسنادو چک لست دی چی تاسو سره مرسته کوی تر څو تیار اوسئ.

- ☐ افغانی هویت اسناد (پاسپورت / تذکره)
- ☐ د اوسنی د موقتی اقامی د اجازی (Parole) اسناد (د I-94 راتلو ریکارد)
- ☐ د USCIS د A لمبر ( تاسو کولی شئ دا شمیره په خپل I-94 راتلو ریکارد، I-797C فورمه، د کار اجازه/EAD کې ومومئ)
- ☐ د کار اجازه / او یا هم د وظیفی د اجازی اسناد EAD
- ☐ د خپل آدرس د بدلیدو شواهد، او که اړتیا وی د AR-11 فورمه
- ☐ که چیری کومه قانونی سرغړونه او په پولیسو کی قضیه لرئ، اطمینان حاصل کړی چی تاسو دترافیکي تخلف ټکیټونه، د محکمی اسناد، او داسی نور اسناد چی تاسو لپاره صادر شوی دي کاپی ځان سره ولرئ اوحتماً په دی اړه حقوقی مشوره وغواړئ.

آیا د مهاجرت حقوقی خدماتو ته اړتیا لرئ؟

لاندی ویب پاڼی ته مراجعه وکړئ:

https://www.immigrationadvocates.org/nonprofit/legaldirectory